**د افغـــانستان اســـلامي امـــارت**

**د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲/ رمضان المبارک/۱۴۴۴ هـ، ق موافق د ۴/ حمل /۱۴۰۲هـ ش**

# د رمضان د مبارکې مياشتې د روژې فضيلتونه او احکام

الحمد لله الذي شرع لعباده صيام شهر رمضان وجعله أحد أركان الإسلام، والصلاة والسلام على نبينا محمد أفضل من صلى وصام وعلى آله وأصحابه البررة الكرام، وبعد:

**درنو مسلمانانو!**

روژه د اسلام دريم رکن دی او د اسلام لويه بناء ده، د رمضان مياشت د کال د نورو مياشتو څخه جلا فضيلت لري؛ ځکه په دې مياشت کې قرآن کريم پر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم باندې د نزول شرف حاصل کړی او اسلامي دعوت هم په دې مياشت کې پيل شوی دی.

رمضان المبارک عظيمه او بهتره مياشت ده. هغه مياشت چې په رحمت پوښل شوی ده. هغه مياشت چې لومړۍ لس ورځې يې رحمت دی، منځنۍ لس ورځې يې مغفرت دی او آخري لس ورځې د جهنم څخه خلاصی دی.

د رمضان د مياشتې فضيلت او بهتري د روژې له امله ده. د رمضان د مياشتې فضيلت او بهتري په قرآن کريم کې او نبوي آحاديثو کې ډير زيات ذکر شوی دی چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

الله تعالی فرمايلي دي: { شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ } البقرة: (۱۸۵)

ترجمه:- د رمضان مياشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل کړی شوی دی چې د خلکو لپاره هدايت دی، او د هدايت او دفرقان (دحق او د باطل بيلوونکی) شکاره دليلونه دي.

**۱- روژه دومره عظيم عبادت دی چې په تيرو امتونو هم روژه فرض وه:- الله جل جلاله فرمايلي دي :** {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} البقرة: (۱۸۳)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی ! پرتاسو باندې روژه فرض کړی شوی ده لکه چې فرض مړی شوی وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو ، ددې لپاره چې تاسو متقيان شی.

ددې مبارک آيت په بناء روژه هغه عبادت دی چې په تيرو امتونو باندې هم فرض شوی وه؛ ولو که د کيفيت او وخت په اعتبار سره په کې توپير موجود ؤ . په تيرو امتونو داسې فرض شوی وه چې کله به هغوی د ماسخوتن لمونځ وکړ او ويده به شول الله تعالی به وربانديې خوراک، څښاک او ښځې حرامه کړلې.[تفسير ابن کثير]

په يهودو هم روژه فرض وه؛ مگر هغوی روژې نيولو ته شا کړه او د روژې په حکمونو کې يې ډول ډول تحريفونه رامنځ ته

کړل. ځينو به په کال کې يوه ورځ روژه نيوله، په دې عقيده چې دا هغه ورځ ده چې موسى عليه السلام په کې د غرقيدلو څخه نجات موندلی ؤ او دوی په دې کار کې دروغجن ؤ ؛ ځکه موسی عليه السلام د عاشوراء په ورځ کې نجات موندلی ؤ.

په نصاراوو هم د رمضان د مياشتې روژه فرض وه، کله چې هغوی په اوړي کې د سختې ګرمۍ سره مخامخ شو نو روژه يې داسې موسم ته واړوله چې ګرمي په کې نه وه (پسرلي ته يې واړله) بيا دوی وويل چې مونږ به لس روژې زياتې نيسو د کفارې په توګه چې د روژې په موسم کې مو تغير راوستلو. بيا د دوی بادشاه مريض شو ، هغه خلکو ته و ويل که چيرې زه روغ شوم اووه(٧) روې به زياتې نيسو هغه په کې اوه روژې زياتې کړې، څه وخت وروسته يو بل کس بادشاه شو هغه روژې پنځوسو ته ورسولی.[ تفسير الرازی]

رژوه دومره لوی عبادت دی چې په ټولو اسماني اديانو کې روژه موجود وه او پرته د آسماني او الهامي اديانو څخه په نورو اديانو کې هم روژې موجود وې.

**٢- د رمضان المبارک مياشتې روژه د ګناهونو د مغفرت سبب دی:-** په يو حديث شريف کې راځي: ( مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إيمَاناً وَاحْتِسَاباً ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ). متفق عليه

ترجمه:- څوک چې د رمضان د مياشتې روژه ونيسي د ايمان په بناء او د ثواب په نيت وبه ببنل شي ورته دهغه تير ګناهونه.

**٣- د رمضان المبارک مياشت روژې بې اندازه ثواب لري او ثواب يې په کوم مقدار پورې نه دی مقيد شوی:-**

د اکثرو عبادتونو د ثواب اندازه معلومه وي او د يو په لس څخه تر يو په اوه سوه پورې ثواب ورته تعيين شوی دی؛ خو يواځې د رمضان مياشت روژه ده چې دثواب يې په کوم مقدار پورې مقيد نه دی؛ بلکې ددې عبادت د ثواب اندازه الله تعالی په خپل ځان پورې تړلی ده. په يو قدسي حديث شريف کې راځي چې الله تعالی فرمايلي دي: (قَالَ اللهُ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إلاَّ الصِّيَامَ، فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ وَالصِّيَامُ جُنَّةٌ، وَإِذَا كَانَ يَوْمُ صَوْمِ أَحَدِكُمْ فَلاَ يَرْفُثْ وَلاَ يَصْخَبْ، فَإِنْ سَابَّهُ أَحَدٌ أَوْ قَاتَلَهُ فَلْيَقُلْ إِنِّي امْرُؤٌ صَائِمٌ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ يَفْرَحُهُمَا: إِذَا أَفْطَرَ فَرِحَ، وَإِذَا لَقِيَ رَبَّهُ فَرِحَ بِصَوْمِهِ).صحيح البخاري وفي رواية لمسلم : (كل عمل ابن آدم له يضاعف الحسنة بعشر أمثالها إلى سبعمائة ضعف، قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ الصَّوْمَ فَإِنَّهُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ يَدَعُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ مِنْ أَجْلِي )
ترجمه:- الله تعالی فرمايلي دي چې د بنی آدمو د هر عمل ثواب هغه پورې تړاو لري( رياء په کې کوي او که نه يې کوي) پرته له روژې څخه چې ددې ثواب ترما پورې تړاو لري(ځکه چې په دې کې رياء ځای نلري) او زه به يې عوض ورکوم او روژه ډال (سپر) دی کله چې ستاسو څخه د کوم شخص د روژې ورځ وي نو ګناه دې نه کوي او جګړې دې هم نه کوي که چيرې څوک ورته کنځل کوي او ورسره جګړه کوي ورته دې ووايې چې زه روژه دار يم ، قسم دې وي په هغه ذات چې د محمد صلی الله عليه وسلم نفس د هغه په واک کې دی چې بوی د خولې د روژه دار ډير خوږ دی دالله تعالی په نزد د بوی د مشکو څخه، روژه دار لپاره دوه خوشحالۍ دي يوه هغه وخت چې کله روژه ماتی کوي خوشحاله کيږي او بله هغه وخت چې د خپل رب سره مخامخ کيږي په خپله روژه به خوشحاله وي . د مسلم په روايت کې راځي چې د مؤمن د هر عمل ثواب زياتيږي يو په لس څخه تر يو په اووه سوه پورې، الله تعالی فرمايې: پرته له روژې څخه ځکه روژه زما لپاره ده او زه به يې عوض ورکوم ، روژه دار خپل شهوت او خوراک زماد رضا لپاره پريږدي.

هرکله چې روژه پټ عبادت دی او یواځې بنده او الله تعالی په کې علم وي او دبنده او دالله تعالی تر منځ راز وي؛ ځکه د ثوب اندازه یې الله تعالی په خپله ذمه اخیستی ده.

- لومړی دا چې الله تعالی روژه خپل ځان ته منسوب کړی ده (فانه لي) چې بل عبادت یې ځان ته نه دی منسوب کړی چې دا د رمضان د میاشتې د روژو په فضیلت دلالت کوي.ځکه روژه پټ عبادت دی او نیول او نه نیول یې یواځې الله تعالی ته معلوم دی، ددې امله اجر یې هم الله تعالی په خپل ځان پورې تړلی دی او غیر محدد دی.
- دوهم داچې په حدیث کې راځي: « وأنا أجزي به » د روژو د ثواب اضافت یې ځان ته کړی دی او د ثواب اندازه یې خپل ځان سره پټه کړی ده، زمونږ امیددی چې دا اندازه یو په اوه سوه څخه هم زیاته ده؛ ځکه هغه اکرم الاکرمین دی او امید لرو چې الله تعالی به هریو روژه دار ته بې حسابه اجر ورکوي.
- دریم داچې په دې حدیث شریف کې راځي: ( الصوم جُنَّة ) روژه ډال او سپر دی، کله چې څوک روژه ونیسي ، هغه به په روژه سره خپل ځان د گناهونو، لغو او بې هوده کارونو او د جهنم له اور څخه ساتي.
- څلورم داچې د روژه دار د خولی بوی دالله تعالی په دوږاندې د مسکو له خوشبوی څخه زیاته ده،ځکه چې دا بوی د روژې اثر چې الله تعالی ته ډیر خوښ دی او هر هغه څه چې د الله تعالی د عبادت او طاعت څخه پیداکیږي هغه الله تعالی ډیر محبوب وي او الله تعالی به ددې اجر ورکوي لکه څرنگه چې د شهید د وینې رنگ دی؛ په آخرت کې به د شهید د وینې رنگ د وینې د رنگ په شان وي خو بوی به یې د مسکو په شان وي .
- پنځم داچې روژه دار شخص دوه قسمه خوشحالي لري یوه د روژه ماتي پروخت خوشحالي او بله د خپل رب سره د مخامخ کیدو پروخت. د روژه ماتي پر وخت خوشحالي ځکه لري چې ده د الله تعالی تر ټولو خوښ عبادت ترسره کړ. او د خپل رب سره دمخامخ کیدو پر وخت به یې خوشحالي ځکه وي چې ده ته به خپل رب ددې عمل ثواب ورکوي او دده ددې عمل بدله ورته ورکوي کله چې د خپل عمل اجر ووینې زیات به خوشحاله وي.

**۴- روژه به د روژه دار لپاره د قیامت په ورځ شفاعت کوي:-**

په یو حدیث شریف کې راځي:(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَقُولُ الصِّيَامُ أَيْ رَبِّ مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ وَيَقُولُ الْقُرْآنُ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ قَالَ فَيُشَفَّعَانِ) مسند أحمد

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : روژه او قرآن کریم به د قیامت په ورځ د بنده (روژه دار) شفاعت کوي . روژه به وایې ای زما ربه!ما منع کړی ؤ ده لره د خوراک څخه او شهوتونو څخه په ورځ کې؛ نو ما شفاعت گر وگرځوه دده په حق کې او قرآن کریم به وایې ای زما ربه ! ما منع کړی ؤ ده لره له خوب څخه په شپه کې نو ما دده په حق کې شفاعت گر وگرځوه. نبي علیه السلام فرمایې: دواړه به شفاعت گر وگرځول شي دده په حق کې.

**۵- کله چې د رمضان مبارک میاشت کې د جنت دروازې برسیره کیږي او د دوزخ دروازې تړل کیږي:-**

به یو جحدیث شریف کې راځي:( إذا جاء رمضان فُتّحت أبواب الجنة وغُلّقت أبواب النار وصُفّدت الشياطين) متفق علیه.
ترجمه:- کله چې د رمضان میاشت راشي نو د جنت دراوزې برسیره شي او د جهنم دروازې بندې شي او شیطانان وتړل شي.
څوک چې د رمضان په میاشت کې روژه ونیسي په دې وسیله به د شیطانانو څخه محفوظ وي او زیات گناهونه به ورڅخه نه صادریږي او هغه اعمال به کوي چې جنت ته دداخلیدو سبب گرځي او د هغو اعمالو څخه به ځان ساتي چې جهنم ته دداخلیدو باعث گرځي.

**٦- د محمدي امت لپاره د رمضان المبارک په روژه کې پنځه ډوله خصلتونه دي چې د تیرو امتونو په نصیب کې نه ؤ :-** په یو حدیث شریف کې دغه پنځه خصلتونه ذکر شوی دي.(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُعْطِيَتْ أُمَّتِي خَمْسَ خِصَالٍ فِي رَمَضَانَ لَمْ تُعْطَهَا أُمَّةٌ قَبْلَهُمْ خُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ وَتَسْتَغْفِرُ لَهُمْ الْمَلَائِكَةُ حَتَّى يُفْطِرُوا وَيُزَيِّنُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ كُلَّ يَوْمٍ جَنَّتَهُ ثُمَّ يَقُولُ يُوشِكُ عِبَادِي الصَّالِحُونَ أَنْ يُلْقُوا عَنْهُمْ الْمَؤُنَةَ وَالْأَذَى وَيَصِيرُوا إِلَيْكِ وَيُصَفَّدُ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ فَلَا يَخْلُصُوا إِلَى مَا كَانُوا يَخْلُصُونَ إِلَيْهِ فِي غَيْرِهِ وَيُغْفَرُ لَهُمْ فِي آخِرِ لَيْلَةٍ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَهِيَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ قَالَ لَا وَلَكِنَّ الْعَامِلَ إِنَّمَا يُوَفَّى أَجْرَهُ إِذَا قَضَى عَمَلَهُ) مسند احمد والبزار

ترجمه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ؛ هغه وایې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زما امت ته په رمضان کې پنځه ډوله خصلتونه ورکړل شوي دي چې ددوی څخه مخکې بل امت ته نه وو ورکړل شوي.

د روژه دار د خولی بوی ډیر خوږ دی الله تعالی ته د مسکو له بوی څخه او ملائکې ورته ښښنه غواړي ترهغې پورې روژه ماته کړي او خایسته کوي الله تعالی ددوی لپاره جنت هره ورځ خایسته کوي او ورته وایې ژر دی چې زما نیک بندګان به ځان څخه لرې کړي زحمت او تکلیف او تاته به راشي او په دې روژه کې سرکشه شیطانان تړل کیږي او نه به وي خلاص هغه کارونو ته چې په بل وخت کې به ورته خلاص وو او ښښل کیږي به ورته په آخري شپه کې . چاوویل : ای د الله رسوله ! آیا دابه د لیلة القدر شپه وي؟ نبي علیه السلام وفرمایل: نه ! مګر کاریګر ته به پوره اجر ورکړل کله چې پوره کار وکړي.

**ګرانو دوستانو!**

دا پنځه خصلتونه او خصوصیتونه الله تعالی ستاسو لپاره چمتو کړي دي او دا یې یواځې ستاسو خصوصیت ګرځولی دی او تاسو یې ددې مستحق ګرځولي یاست؛ لکه څرنګه چې یې تاسې غوره امت ګرځولي یاست.

په دې حدیث شریف کې د پنځو خصوصیتونو ذکر شوی دی؛ غواړم چې ددې خصلتونو او خصوصیتونو په اړه لږه تبصره وکړو:

- لومړی خصلت:- د روژه دار د خولی بوی الله تعالی ته د مشکو له بوی څخه هم غوره او بهتره دی.
- دوهم خصلت:- (أن الملائکة تستغفر لهم حتی یفطروا ) ملائکې روژه دار ته د ښښنې دعاء غواړي؛ ترڅو هغې پورې چې هغه روژه ماته کړي. ملائکې دالله تعالی مقدسې او پاک مخلوق دی او کله چې دوی د روژه دار لپاره د مغفرت دعا غواړي امید دی چې الله تعالی به ددوی دعاء کړي، په دې کې جمله کې د روژې فضیلت ښکاره پروت دی او ددې معنا داده چې الله تعالی د روژه دار لپاره ملائکې هم په کار ګمارلي دي.
- دریم خصلت او خصوصیت:-( أن الله یزین کل یوم جنته) هره ورځ الله تعالی د روژه دار لپاره خپل جنت خایسته کوي او جنت ته وایې چې ژر دی چې زما نیک بندګان به زحمت او تکلیف له ځان څخه لرې کړي او تاته به داخل شي.ددې څخه د روژه دارانو مقام، فضیلت، او د هغوی غوره عاقبت معلومیږي ؛ ځکه چې الله تعالی د روژدارانو لپاره خصوصي اهتمام کوي.
- څلورم خصلت او خصوصیت:-(أن مردة الشیاطین یُصَفَّدون). په روژه کې سرکشه شیطانان تړل کیږي.

په دې کې د الله تعالی مرستې ته اشاره ده چې الله تعالی په روژه کې د روژ دارانو څخه د هغوی ازلي دښمن تړي او ورسره په روژه کې خصوصي مرسته کوي؛ ترڅو هغوی داسې نیک عملونه وکړي چې جنت ته داخل شي.

نو په کار ده چې په روژه کې زيات نيک عملونه وشي او د آخرت لپاره توخه ذخيره شي.

- پنځم خصوصيت:- ( أن الله يغفر لأمة محمد صلى الله عليه وسلم في آخر ليلة من هذا الشهر) هرکله چې روژه دار په روژه کې هغه کارونه وکړي چې د الله تعالی د قرب او نزديکت سبب ګرځي؛ الله تعالی به د خپل فضل او مهربانۍ له مخې روژه دار ته د روژې په آخر کې ښښنه وکړي او دده ګناهونه به ورته معاف کړي چې د الله تعالی مغفرت د روژې ترټولو لوی عوض دی.

**۷- څوک چې روژه نيسي الله تعالی به يې مخ له جهنم څخه وساتي:-**

په يو حديث شريف کې راځي :(مَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بَاعَدَ اللّٰهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا).متفق عليه

ترجمه:- څوک چې روژه ونيسي دالله تعالی په لاره کې الله تعالی به وساتي مخ دده له اور څخه د اويا کلونو په اندازه.

**۸- په روژه کې نفلي عبادت د فرضي عبادت په اندازه ثواب لري:-** لکه څرنګه چې د حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه په حديث کې راغلي دي چې پيغمبر عليه السلام داسې وفرمايل:

(عَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم آخِرَ يَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ فَقَالَ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ فَرَضَ اللَّهُ صِيَامَهُ وَجَعَلَ قِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا فَمَنْ تَطَوَّعَ فِيهِ بِخِصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فَمَا سِوَاهُ وَمَنْ أَدَّى فِيهِ فَرِيضَةً كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ وَهُوَ شَهْرُ الْمُوَاسَاةِ وَهُوَ شَهْرٌ يُزَادُ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ فِيهِ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ عِتْقُ رَقَبَةٍ وَمَغْفِرَةٌ لِذُنُوبِهِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ لَيْسَ كُلُّنَا يَجِدُ مَا يُفَطِّرُ الصَّائِمَ قَالَ يُعْطِي اللَّهُ هَذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلَى مَذْقَةِ لَبَنٍ أَوْ تَمْرَةٍ أَوْ شَرْبَةِ مَاءٍ وَمَنْ أَشْبَعَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مَغْفِرَةٌ لِذُنُوبِهِ وَسَقَاهُ اللَّهُ مِنْ حَوْضِي شَرْبَةً لاَ يَظْمَأُ حَتَّى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ). صحيح ابن خزيمة

ترجمه:- د سلمان فارسي رضی الله عنه نه روايت دی چې د شعبان په وروستی ورځ کې رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته په يوه خطبه کې وفرمايل: ای خلکو! تاسو باندې يوې عظيمې او له برکته ډکې مياشتې سيوری غوړولی دی يوه شپه (دقدرشپه )يې دزرو مايشتو نه غوره ده، الله جل جلاله ددغې مياشتې روژه فرض کړی ده، او د روژې د شپې قيام يې ( د تراويح لمونځ) نفلي عبادت ګرځولی دی، پس څوک چې وکړي يو د خير کار دا داسې دی لکه څوک چې فرض اداء کړي په نورو مياشتو کې او څوک چې په دې مياشت کې فرض اداء کړي دا داسې ده لکه څوک چې اويا فرض اداء کړي په نورو مياشتو کې، دا د صبر مياشت ده او د صبر عوض جنت دی، دا د خوا خوږۍ همدردۍ مياشت ده او دا هغه مياشت ده چې د مؤمنانو روزي پکې زياتيږي. هر څوک چې په دی مياشت کوم روژه دار ته روژه ماتی ورکړي ګناهونه يې ښښل کيږي او د دوزخ له اور څخه خلاصيږي . عرض وشو چې: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم! مونږ هريو د روژه ماتی ورکولو وس نه لرو ( نو آيا مسکينان ددی ثواب نه محروم دي؟) رسول الله صلی الله عليه وسلم و فرمايل: الله جل جلاله دغه ثواب هغه چا ته هم ورکوي چې يوه خرما يا يو غړب اوبه او يا لږې شيدې کوم روژه دار ته د روژه ماتي لپاره ورکړي او چاچې روژه دار موړ کړ دا به د هغه لپاره د ګناهونو د ښښلو سبب وي او الله تعالی به يې خړوب کړي زما د حوض کوثر څخه چې تګی به نه شي ترهغې پورې چې جنت ته داخل شي پرته له دې چې دده د اجر څخه څه کم شي. بيايې و فرمايل: ددی مياشتې لومړی برخه رحمت دی او منځنۍ برخه يې مغفرت دی او وروستۍ برخه يې د دوزخ د اور څخه خلاصون دی.

**۹- روژه د الله تعالی په عبادت باندې د مسلمان صبر زیاتوي، روژه د الله تعالی په عبادتونو ، امتحانونو ، سختیو، ولږه او تنده باندې د مسلمان صبر زیاتوي، ددې وجې نه د صابرینو اجر بې حسابه وي:- الله تعالی فرمایلي دی:{ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ } الزمر : (۱۰)**

## **د روژې حکمت او ګټې:**

**د روژې مشروعیت زیات حکمتونه او ګټې لري چې ځینې په لاندې توګه دي:**

**۱- په نفس برلاسی: په روژه کې مؤمن په نفس باندې برلاسی کیږي، کوم نفس چې تل د لذتونو او شهوتونو تقاضا کوي.**
**يمكّن الإنسان من التغلب على نفسه الأمارة بالسوء، فإنها كانت في وقت الإفطار تغالب صاحبها وتنـزع إلى تناول الشهوات المحرمة، فلما جاء الصيام تمكن الإنسان من إمساك زمام نفسه وقيادتها إلى الحق.**

**۲- تقوا:- کله چې مؤمن خاص د الله تعالی د رضا لپاره روژه ونیسي په زړه کې ورته دالله تعالی څخه ویره او خوف پیدا کیږي چې په دې سره د ګناهونو څخه ځان ساتي او په نیکۍ کې کوښښ کوي چې دی حالت ته تقوا ویل کیږي او دا د روژې د مشروعیت مهمه فلسفه ده.**

**۳- اخلاص:- په روژې سره د مؤمن به زړه کې اخلاص پیدا کیږي؛ ځکه چې مؤمن خاص دالله د رضا لپاره خوراک او څښاک پریږدي چې دا د اخلاص معنا ده.**

**۴- صبر:- روژه انسان په صبر عادت کوي ؛ ځکه روژه دار ولږه او تنده تحمل کوي او دا حالت تر یوې میاشتې پورې دوام کوي چې په نتیجه کې مؤمن په صبر باندې ځان عادت کوي؛ ددې لپاره چې مؤمن د هر مشکل په وړاندې باید صبر وکړي.**

**۵- مساوات او عدالت:- روژه د مساوات او عدالت درس راکوي؛ ځکه چې په روژه کې غني او فقیر دواړه په یو صف کې ولاړ وي. غني او دواړه یو شان پیشلمی کوي او تر ماښام پورې د خوراک او څښاک څخه بند وي. په دې کې دا درس پروت دی چې غني د فقیر له حالت څخه خبر شي او د ولږې او تندې حالت یې درک؛ ترڅو په ټولنه کې د فقیرانو لاسنیوی وکړي او د هغوی حالت ته رسیدګي وکړي.**

**٦- صحي او جسمي روغوالی:- روژه زیات صحي ګټې لري چې د هغې له جملې څخه د هاضمې جهاز ته ګټه رسول دي، د هاظمی په جهاز کې راحت رامنځ ته کوي ترڅو د آینده لپاره په کې نشاط رامنځ ته شي. همدا راز د زیاتو وازدو له منځه تلل مهمه ګټه ده او د بدن اضافي وازده کمیږي چې صحت ته زیاته ګټه رسوي او د مرضونو مخه نیسي.**

**۷- روژه دالله تعالی طاعت اتو بندګۍ سره مینه او محبت زیاتوي:- د روژې په وجه د مسلمان په زړه کې د الله تعالی د طاعت او بندګۍ سره مینه او محبت پیداکیږي او د ګناهونو او معصیتونو سره کرکه پیداکیږي.**